شیرولی شیر ۲۰۱۰/۰۳/۲٤م

# د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د نوي کال غونډې رپوټ
## او د ریچارد هولبروک د څرګندونو غندنه

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې، د مارچ په ۲۱مې ۲۰۱۰، د کولن/هیورت ښار کې د ۱۳۸۹ لمریز کال په ویاړ، یوه غونډه جوړه کړه، له بلې خواه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه دوولس کلنه شوه. په همدې غونډه کې د ټولنې دولسمه کلیزه هم ونمانځل شوه. بیا مشاعره ترسره شوه، او په پای کې د ګران هیواد افغانستان په ورستیو سیاسي حالاتو، خصوصاً د ریچارد هولبروک په وروستیو مغرضانه څرګندونو، پراخ بحث وشو او دا څرګندوني په پوره شدت سره وغندل شوي.

دغونډې چلوونکی د ټولنې مرستیال او د مشرتابې جرګې غړی ښاغلی ډاکټر صاحب شیرولي شیر وو. ښاغلي ډاکټر د ښاغلي هاشمي څخه هیله وکړه، چې غونډه د قران کریم په مارکو آیاتونو سره پرانیزي.
ښاغلي سید هاشم هاشمي،غونډه د قران کریم په سپیڅیلو آیاتونو تلاوت سره پرانیسته.

ښاغلي ډاکټرشیرولي د هاشمي صاحب څخه په مننې سره، ښاغلي استاد حسن، د ټولنې مشر ته بلنه ورکړه، تر څو خپله پرانیستونکې وینا واوروي.

وروسته د ټولنې مشر ښاغلي استاد انجینییر سید حسن، د ټولنې پرانیستوکې وینا په هر اړخیزه توګه، د ټولنې د جوړیدو، موخو او فعالیتونو په هکله واوروله.

استاد وفرمایل:
،، ۱- ټولنې، په بیلابیلو علمي، تاریخي او ادبي برخو کې تر ۱۲ زیاد لوی نړیوال څیړنیز سیمینارونه جوړ کړي دي. په همدې توګه تر ۱۰ ډیری کوچنې غونډې جوړې، او په همدې شمیر یې د هیواد د وتلوعلمي، ادبي او فرهنګي شخصیتونو ویاړغونډې او ادبي ماښامونه جوړ کړی دي.
۲ - ټولنې تر ۱۲۰عنوانه ډیر با ارزښته (طبي، ساینسي، تاریخي، دیني او ادبي) کتابونه، د چاپ پر ګاڼه سمبال کړي دي.ددې جملې یوازې ډاکتر صاحب ماخان شینواري ۱۰ عنوانه کتابه، او پوهاند صاحب ماموند ۳ عنوانه علمي کتابونه لیکلي دي.
۳- تیر کال، ټولنې د ځوانانو ځانګه افتتاح کړه. د ځوانانو ځانګې په خپل وار د هیواد وتلي شاعر علي ګل پیوند په ویاړ د لمر ګل تر سرلیک لاندې ادبي ماښامی جوړ کړ.
٤ – همدا راز تیر کال د مشرتابه ډلې په مرسته او مشوره د میرمن کلتوري – ټولنیز بهیر ځانګه هم جوړه شوه.
٥ – ټولنې، د هیواد د ملي ګټود ساتلو دپاره په بیلابیلو حساسو شیبو کې د اعلامیو، قطعنامو او احتجاج لیکونو په ترڅ کې خپله ملي – تاریخي رسالت تر سره کړی دی.
٦ – په تیر کال کې د شهید داوود خان د سلمې کلیزه نړیوال، څیړ نیز سیمینار جوړ او په دې ویاړ ۱۰ عنوانه کتابونه چاپ شول.
۷ – ټولنې د هغو ښاغلو، چې ټولنې سره یې مادي مرستې او بسپنې کړي وی (ښاغلی محمد عارف بیان، ډاکټر صاحب ایمل صافی او ډاکټر صاحب همایون همت) څخه ، د مننلیکونو په ترڅ کې مننه څرګنده کړه.
۸ – ټولنې، ډیر نور غوره ملي خدمتونه هم تر سره کړي دي. همدا راز ټولنې، د هیواد په دننه کې د یو شمیر علمي، فرهنګي او ادبي ټولنو په جوړیدو کې په فعاله توګه برخه اخیستې ده.،،

ښاغلي ډاکټر صاحب شیر ولي شیر، د استاد د هراړخیزې وینا څخه مننه وکړه او د ټولنې د مالي چارو مسوول او د مشرتابې جرګې غړي ښاغلي ډاکټر رمضان سعادت څخه یې هیله وکړه، تر څو د ټولنې د تیر کال مالي راپور وړاندې کړي.

ښاغلي ډاکټر رمضان سعادت د ټولنې مالي راپور وړاندې کړ او په دې اړوند یې د تیر کال په مالي چارو، بیلانس او فعالیتونو مفصل بحث وکړ او اړوند پوښتنو ته یې ځوابونه وویل.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

وروسته تر هغه د ټولني د چارو د ښه کيدو په اړه د ټولني د غونډې برخوالو او مشرتابې جرګې ترمينځ مفصله مباحثه تر سره شوه. د ټولني د چارو د لا ښه کيدو دپاره هراړخيزاو عملي وړانديزونه وشول.

ښاغلي ډاکټر شيرولي، د مشرتابه جرګې غړي ښاغلي محمدا جان يار څخه هيله وکړه، تر څو د مشاعري د چلولو چاري تر سره کړي.

ښاغلي يار د ښه راغلاست او ځلوريزو وړاندي کولو وروسته، ښاغلي ډاکټر ماخان شينواری ته بلنه ورکړه تر څو خپل شعر ولولي.

تر هغه وروسته ښاغلي حاجي صاحب مبارز صافي خپل پسرلنی ښکلی شعر واورولو.

بيا ښاغلي رمضان سعادت، د ميرنی پښتني ځواني خواوچتي شاعرې (د آريوب شملي) آغلي بلينده بدری ډير په زړه پورې، د افغاني برم او غيرت څخه ډک شعر ولووست.

ترهغه وروسته ځوان شاعر ښاغلي انجينيير مطيع الله رووفي د اوچت شاعر ښاغلي رحمت شاه سايل خواږې ځلوريزي واورولي.

اوپه پاي کي ښاغلي يار صاحب خپل ښکلی پسرلنی شعر (راشه پسرليه ...) دکلمه کړ. پدې ترتيب د مشاعرې برخه پای ته ورسيده.

ښاغلي ډاکټر صاحب شيرولي شير بيا دغونډې د چلولو مسووليت پر غاړه واخيست.

پدې برخه کي دغونډې برخوالو د هيواد پر سياسي مسايلو خصوصآ د ريچارد هولبروک پر وروستيو د غرضه ډکې مرکې، تاوده بحثونه وکړل.

ريچارد هولبروک د مارچ پر پنځمه نيټه د هاروارډ فوروم ته په يوې مرکي کي ويلی وو چي: ،، طالبان د پښتني ټولني زېږنده دي او په هره کورنی کي داسي څوک شته چي له طالبانو سره تړاو لري،
افغان ولسمشر حامدکرزی هم پښتون دی، ځکه خو نومړی غواړي له طالبانو سره سوله وکړي،،
هولبروک طالبان پښتانه بولي او پښتانه طالبان .
هولبرووک د سولي بهير ردوي او پښتانه او طالبان په يوه بل کي مدغم بولي او د کرزي د سولي کوښښونه د کرزي په پښتونولي کي ويني.
اوس پوښتنه دا ده چي:
آيا دا د آمريکا د چارواکو رسمي نظر ده؟
که داسي وي، بيا نو مسله حل ده. دوی به نه غواړي، چي افغانستان ته سوله راشي.
اما !!!!
که دا څرګندوني، دې ريچارد هولبروک شخصي نظر وي؟؟، بيا خو ضروري خبره دا ده، چي ولي داسي يو سياستوال او ديپلومات په داسي يوې مهمي دندې ګمارل شوی ده، چي بې مسووليته، تخريش کوونکي او ويجاړونکي خبري کوي.په دې صورت کي دې ډير ژر هولبروک معزول شي .

دغونډې ټولو ګډونوالوپه يوه خوله اوجديت سره د ريچارد هولبروک دا بی مسوليته او ورانوونکي څرګندوني وغندلي او تقبيح يې کړې.

هو!!! يوې مسلې ته د هولبروک او د دوی ډلې، جدې پاملرنه غواړوو، هغه داچې:
... افغانستان بالکان نه دی.!!

غونډه د شپي په ۲۲:۰۰ بجودښاغلي حاجي صاحب فضل رحمن شير په دعايه وينا سره پای ته ورسيده.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه
دمشرتابه جرګه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ